**د افغانستان اسلامي امارت**

**د عدلیې وزارت**

**د پالیسۍ او پلان ریاست**

# د افغانستان اسلامي امارت د لومړیو اتو میاشتو په ترڅ کې
# د عدلیې وزارت کاري راپور

**راپور ورکونکی :** ( د عدلیې وزارت).

**راپور اخېستونکی:** ( د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د دفتر ریاست).

د افغانستان اسلامي امارت په جوړښت کې له کلیدي وزارتونو څخه یو د عدلیې وزارت دی چې په مرکز کې لــه (۴) عمومي ریاستونو (۲۵) دوه یم بست ریاستونو (۱) خپلواک آمریت او د هېواد په کچه له (۳۳) ولایتي ریاستونو څخه جوړ دی او د دې وزارت تر اغېز لاندې ریاستونو له فتحې څخه وروسته د اتو میاشتو په ترڅ کې لاندې فعالیتونه تر سره کړي دي.

<u>**تر سره شوې دندې او فعالیتونه**</u>

د قانون جوړونې او د علمي ـــ حقوقي څېړنو د چارو د انستیتوت لوی ریاست:

<u>**الف: د تقنیني سندونو د تسوید او تدقیق په برخه کې**</u>

**د افغانستان اسلامي امارت د چارو د ادارې د محترم لوی ریاست د کابینې د چارو د انسجام ریاست، د دولت د چارو د انسجام معاونیت د ۱۴۴۳/۳/۲۳ نېټې د ۱۷۴ ګڼه لیک له مخې (۱۳) تقنیني سندونه د شریعت له حکمونو او د افغانستان اسلامي امارت له اصولو سره سم د بیا کتنې لپاره وزارتونو او امارتي ادارو ته وړاندې شوي دي**

<u>**ب: د افغانستان اسلامي امارت وزارتونو او ادارو ته د قانوني مشورو د ورکولو په برخه کې**</u>

امارتي ادارو ته (۱۳) قانوني مشورې ورکړل شوې دي.

<u>**ج: د تقنیني سندونو د تسوید او تدقیق غونډو د جوړولو په برخه کې**</u>

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د ۱۴۴۳/۳/۴ نېټې د (۵) ګڼه مصوبې او د ۱۴۴۳/۴/۲۴ نېټــې د (۱۲) ګڼــه مصوبې د تعمیل په منظور د تقنیني سندونو د تسوید او تدقیق په برخه کې د استازو په ګډون (۱۵) غونډې جوړې شوې دي.

<u>**د تړونونو په اړه د قانوني نظر د څرګندولو په برخه کې**</u>

د لاندې تړونونو په اړه قانوني نظر څرګند شوی دی او د وررستیو کړنو لپاره لیکلی قانوني نظر د اړتیا په وخــت کــې اړوندو ادارو ته لیږل شوی دی:

**۱ـــ** د جلال آباد او پېښور تر منځ د مسافر وړونکو بسونو د خدمتونو د پیل په اړه د افغانستان اســلامي امــارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت د حکومتونو تر منځ هوکړه لیک لاسلیک شوی دی .

**۲ـــ** د کندهار او کوېټې ترمنځ د مسافر وړونکو بسونو د خدمتونو د پیل په اړه د افغانســتان اســلامي امــارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت د حکموتونو ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شوی دی .

**۳ـــ** د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه او د بشري د حقوقو (۴)کنوانسیونونه څېړل شوي او شرعي ستونزې یې تشخیصې او د قانون جوړونې د چارو انستیتوت له لارې د وزارت محترم مقام ته وړاندې شوي دي.

**د مدني قوانينو ډيپارتمنټ**

۱ــ د وزارت د محترم مقام له لاربښوونې سره سم امارتي ادارو او عارضينو ته د (۲۲) قانوني مشورو ورکول.

۲ــ د اسلامي شريعت له حکمونو او د افغانستان اسلامي امارت له اصولو سره سم د بيا کتنې لپاره اړوندو وزارتونو او امارتي ادارو ته د تقنيني سندونو د طرحې مستردول.

۳ــ دځينو قوانينو د مادو د تعديل طرحې چې ټولې (۴۲) ته رسېږي.

**د جزايي قوانينو ډيپارتمنټ**

**۱ــ د سرو زرو پلورونکو په سکتور پورې د اړوندو فعاليتونو د رسمي کولو طرحه تسويد او د تصويب لپاره کابينې ته لېږل شوې ده.**

**۲ــ د جسدونو د راټولولو، خپلوانو ته د هغو د سپارلو يا د هغوی د تدفين د مقررې د ځينو مادو د تعديل طرحه اړوندو مراجعو ته لېږل شوې ده.**

۳ــ د باطله مهرونو د له منځه وړلو په اړه د وزارت محترم مقام ته نظر څرګند شوی دی.

**۴ــ د داخلي پلټنې د مقررې د مسودې په اړه د عدليې وزارت د داخلي پلټنې رياست ته نظر څرګند شوی دی.**

**۵ــ د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره تدقيق او د قانوني پړاوونو له تېرولو وروسته نافذه شوې.**

**د رسمي سندونو د ژباړې او تصديق رياست**

**۱ــ ژباړل شوي تقنيني سندونه: (۱۱۲)**

**۲ــ صادر شوي جوازليکونه: (۱۰).**

**۳ــ تصديق شوي رسمي سندونه: (۳۴۵۷۹).**

**د بهرنيو اړيکو رياست**

۱ــ د افغانستان د پراختيا او د بيا جوړونې د همغږۍ له مؤسسې (CRDSA) سره په (۸) ولايتونو ( کابل، هرات، بلخ، سمنګان، باميان، غور، بادغيس او دايکندي) کې د يادې مؤسسې د فعاليتونو د بيا پيل په اړه د غونډې جوړول او د يادې مؤسسې او د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت تر منځ د يوه هوکړه ليک برابرول ترڅو د مؤسسې فعاليتونــه د هغه په چوکاټ کې صورت ومومي.

۲ــ د کډوالو لپاره د ناروې مؤسسې (NRC) له پلاوي سره د غونډې جوړول او د افغانستان په ( ۱۲) ولايتونو کې د هغو د فعاليتونو پېژندنه او په (۱۲) ولايتونو کې د خپلو مخکينيو فعاليتونو د دوام لپاره د عدليې وزارت له لوري د اجازې د ورکړې غوښتونکې شوه چې (۱۲) ولايتونو ته د عدليې وزارت د محترم سرپرست په لاسليک د بهرنيو اړيکو له لوري رسمي ليک ولېږل شو او په دغو ولايتونو کې يادې مؤسسې ته د ۲۰۲۱ ميلادي کال تر پايه پورې د فعاليــت اجــازه ورکړل شوه.

۳ــ د توحيد د ټولنيزو او پرمختيايي چارو له مؤسسې (TSDO) سره د غونډې جوړول او د افغانستان په ( ۴) ولايتونو کې د هغو د فعاليتونو پېژندنه څرنګه يې چې د خپل فعاليت د ډول او سيمې په اړه معلومات وړاندې کړل او د ۲۰۲۱ ميلادي کال د دسمبر مياشتې تر پايه پورې د کابل، ننګرهار، بلخ او کندهار په ولايتونو کې د خپلې پروژې د پلي کولو

لپاره د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت له لوري د اجازې د ورکړې غوښتونکي شول چې يادو ولايتونو تـــه د عدليې وزارت د محترم سرپرست په لاسليک د بهرنيو اړيکو له لوري رسمي ليکونه ولېږل شول .

۴ــ د هغو په فعاليتونو د پوهاوي لپاره د ايميل او وتساپ له لارې د (TSDO) له مؤسسې سره د دوامدارې اړيکـــې رامنځته کول.

۵ــ د بهرنيو اړيکو رياست له مؤسسو سره د همغږۍ د ځانګې د فعاليتونو د پر مخ وړلو لپاره د اصولنامې برابرول.

٦ــ له مرسته کوونکو بنسټونو سره چې له (۱۰) څخه زياتو مؤسسو څخه جوړ دی د ياد بنسټ د فعاليتونو د پــرمخ وړلو په برخه کې د هغو د فعاليتونو پېژندنه او څرنګوالی او د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت د همکارۍ لپاره د غونډې جوړول. همداراز له بنسټ څخه د بهرنيو اړيکو رياست له لوري د هغو د پروژې سندونه او عمومي معلومات و غوښتل شول چې د هغو په رڼا کې مرسته کوونکي بنسټ خپل فعاليتونه پيل کړي.

۷ــ د سلواغې په مياشت کې د هرات په ولايت کې د کډوالو لپاره د ناروې پلاوي د (NRC) مؤسسې له فعـــاليتونو څخه بررسي او څارنه او همدارنګه د سلواغې په مياشت کې د هرات په ولايت کې د افغانســـتان د پرمختيـــا او د بيـــا جوړونې همغږۍ د مؤسسې (CRDSA) له فعاليتونو څخه بررسي او څارنه وشوه .

۸ــ د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت او د کډوالو لپاره د ناروې پلاوي د (NRC) مؤسسې ترمنځ د هوکړه ليک د پړاوونو تېرول.

## د داخلي پلټنې رياست په برخه کې

د داخلي پلټنې رياست له خپلې تګلارې سره سم د عدليې وزارت د اړوندو ادارو له کړنو څخه څېړنه کړې چې له پلان سره سم په کړنو سربېره د فوق العاده موضوعګانو څېړنه يې هم کړې ده.

## د ترسره شوو دندو ارقام

### الف: د پلاني کړنو په برخه کې

د (پنجشير، ميدان وردګو، تخار، کاپيسا او بغلان ) ولايتونو د عدليې رياستونه چې مخکې څېړل شوي وو راپوروونه يې د وروستيو کړنو په خاطر اړوندو رياستونو ته لېږل شوي دي. او همدارنګه د څارنې او کنترول آمريت له لوري د عدليې وزارت اړوند له (۹) رياستونو څخه څارنيز راپور برابر او د وزارت د محترم مقام له تأييد څخه وروسته د کړنې په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوی دی.

### ب:- د فوق العاده موضوعګانو په برخه کې

د داخلي پلټنې رياست پر پلان سربېره د محترم مقام د لارښوونې پربنسټ د (۳٦) فوق العاده موضوعګانو په برخه کې کړنې ترسره کړې دي.

## د خپرونو او عامه اړيکو رياست په برخه کې:

### رسمي جريدې او سوداګريز اعلانونه

(۳۲۱۳) شمېرې مرکزي او ولايتي سوداګريز شرکتونه چې په (۳) رسمي جريدو کې چاپ شوي او (۱) شمېره يـــې د چاپ لپاره چمتو ده چې ددې شرکتونو حق الاشاعه (٦۷۷۹۰۰۰) افغانۍ کېږي د عدليې وزارت له لوري بانـــک تـــه تحويلې شوې دي او جريده يې په وب سايت کې خپره شوې ده.

## ویش او پلور

(۱۵۳) شمېرې قوانین په نغدو پیسو پلورل شوي او همداراز (۱۲)شمېرې جرېدې او (۲) شمېرې د عدالت مجلې په نغدو پیسو پلورل شوې اوپیسې یې تحویل شوې دي.

(۹۹) سودا گریز اعلانونه چې د رسمي جریدې په (۱۴۱۱-۱۴۱۲ او ۱۴۱۳) گڼو کې چاپ شوي دي د ولایتونو د عدلیې ریاستونو ته لېږل شوي دي

## کتابتون

غیراشتراکي ورځپاڼې: انیس (۱۰) شمېرې، هېواد (۱۰) شمېرې، شریعت (۱۰) شمېرې، ارگ (۱۰) شمېرې دغه ورځپاڼې هره ورځ د وزارت محترم مقام ته، د مرکزي ریاستونو رئیسانو او نورو چارواکو ته وېشل شوې دي.

(۷۹) ټوکه کتابونه د مطالعې لپاره د وزارت کارکوونکو ته وېشل شوي دي .

د نورو ادارو (۲۳۴) ټوکه مجلې او خپرونې چې وزارت ته راغلې دي او وېشلې شوې دي.

## وب سایت

(۴) شمېرې سوداگریز اعلانونه، او (۴۳۵) شمېرې جوازونه صادر شوي، (۱۱۶) شمېرې جوازونه نوي شوي او (۳۱۹) شمېرې نوي جوازونه د معاملو د لاربنوونې ریاست څخه راټول شوي، ټولټال (۹۹) خبرونه په وب سایت کې خپاره شوي دي.

مرکزي ریاستونو او (۳۴) ولایتونو ته رسمي برېښنالیکونه جوړ شوي دي.

د عدلیې وزارت د سرپرست پیغام په وب سایت کې خپور شوی دی، د عدلیې وزارت له لوري په وب سایت کې پته جوړه شوې او خپره شوې ده او همدارنگه ۹میاشتنې کاري راپور د عدلیې وزارت په وب سایت کې خپور شوی دی.

د ویاند او د هغه د معلوماتو د مسؤل صفحې په وب سایت کې نوې شوې دي .

په وب سایت کې د ولایتونو د رئیسانو د تیلفون شمېرې خپرې شوې دي.

## د انسجام د لوی ریاست په برخه کې

۱ــ د انسجام لوی ریاست په دې بریالی شوی دی چې په اداري سیستم کې د ښه والي لپاره د مجربو او مسلکي غړو په ټاکلوسره لازم بدلونونه رامنځته کړي.

۲ــ د انسجام د لوی ریاست د اړوندو څانگو د ډیټابیس کار بشپړ شوی دی چې د انسجام لوی ریاست اړوند (۲) ډیټابیسونه او د وزارت په کچه (۱۳) ډیټابیسونه فعال دي چې د اړوندو دفترونو هر اړخ ته ځواب ویونکی وي.

۳ــ د انسجام لوی ریاست د متحدالمال لیک په ترځ کې د اړوندو ادارو په وخت او د لا ښو کړنو د کاري بهیر د څرنگوالي په اړه په رسمي ډول لېږلی دی ترڅو له هغه سره سم خپل فعالیتونه تنظیم کړي.

۴ــ د انسجام لوی ریاست په دې بریالی شوی دی چې له پلان سره سم په مرکز کې د معاملو د لاربنوونې له دفترونو څخه څارنه وکړي چې دغه څارنه په (۲۴) ولایتونو کې هم دوام لري او تر یوې اندازې پورې د هغو د غیر قانوني کړنو مخه نیول شوې ده ، او همدا راز په مرکز او ولایتونو کې د انسجام لوی ریاست ټول ترلاسه شوي عواید (۲۸۹۰۰۲۴۴) افغانۍ دي چې د امارت د وارداتو حساب ته په بانک کې تحویلي شوې دي.

۵ــ د ټولنو (۲۸) جواز لیکونه ثبت، د ټولنو (۳) جواز لیکونه تمدید شوي او (۲۰) دوسیې تر دوران لاندې دي.

همداراز د ټولنو (۳۱) دفترونه کتل شوي او د ټولنو (۳) دفترونه څارل شوي دي.

۶ــ د معاملو د لاربنوونې (۳۷۵) نوي جواز ليکونه وېشل شوي، د معاملو د لاربنوونې د دفتر (۹۲) جوازليکونه فسخه شوي، د معاملو د لاربنوونې (۲۹۳) دفترونه څارل شوي او بررسي شوي د معاملو د لاربنوونې (۴۸۰) دوراني فورمې وېشل شوي دي (۱۲۰۰) ستې مهر او نبناني شوي دي او همداراز (۱۰۱) دفترونه ترل شوي دي.
۷ــ د عريضې ليکونکو (۱۳۸) جواز ليکونه ثبت، د عريضې ليکونکو (۱۰۲) جواز ليکونه تمديد شوي دي.

## د امارت د قضاياوو د لوی رياست په برخه کې

۱ــ (۵۹) دوسيې چې د امارت د قضاياوو لوی رياست ته رسېدلې دي، اړوندو مراجعو ته د وروستيو کړنو لپاره لېږل شوي دي. (۸) دوسيې تر کار لاندې دي .

## د کابل ولايت د امارت د قضاياوو رياست په برخه کې

۱ــ د شپږو مياشتو په ترڅ کې د کابل ولايت د امارت د قضاياوو رياست ته (۲۶۶) دوسيې رسېدلې دي چې لــه دې جملې څخه (۷۰) دوسيې د شرعي پرېکړې لپاره محکمو ته لېږلې شوي دي (۴۶) دوسيې د حقوقو رياست تــه لېږلــې شوې دي، د هغو (۱۲۵) نورو ادارو ته لېږلې شوې او(۵۴) دوسيې تر بررسی لاندې دي. همداراز (۸۶) ليکونــو او عريضو ته هم رسيدګي شوې ده.

## د کابل ولايت د حقوقو رياست په برخه کې

۱ــ ټولې (۱۸۷۴۹) عريضې د کابل ولايت د حقوقو رياست او د اړوندو ناحيو آمريتونو ته رسېدلې دي چې لــه دې جملې څخه (۵۸۶۵) عريضې محکمې ته راجع شوې دي، (۷۶۰) عريضې نورو ادارو ته راجع شــوې دي، د هغــې (۱۵۱) اصلاح شوي، د هغې (۵۲۶۰) تر دوران لاندې دي او (۶۷۱۳) حفظ شوې دي.
۲ــ (۱۷۸) املاکي دوسيې، (۲۸۸) ددويونو دوسيې او (۱۴۱) فاميلي دوسيې چې ټولې (۶۱۳) دوسيې کېږي د کابل ولايت د حقوقو رياست او د اړوندو ناحيو آمريتونو ته رسېدلې دي چې له دې جملې څخه (۱۴۹) دوسيې د پرېکــړې لپاره محکمو ته راجع شوې دي، (۱۱۳) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې دي، (۲۳۰) دوسيې تر دوران لانــدې دي، (۹) تطبيق او (۱۱۲) حفظ شوې دي.
۳ــ (۲۷۰۲۴۱)افغانۍ د حقوقو محصول، (۱۶۸۶۸۷۸) افغانۍ د محکمو د پرېکړې محصــول، او (۹۹۹۱۰۰۰) افغانۍ د عريضو د ثبت له حق څخه ترلاسه شوې دي

## د پاليسۍ او پلان رياست په برخه کې

۱ــ د وزارت د وروستيو کلونو په پرمختيايي پلان کې د شاملېدو لپاره د دوه يمو واحدونو د وړانديز شويو پروژو نوملړ او جدول بندي.
۲ــ د عدليې وزارت د ۱۴۰۱مالي کال د پايلو پربنسټ د پلان د غوښتنې په اړه ټولو اړوندو رياستونو ته د متحد المال لېږل، تحليل، توحيد او برابر شوي او د عدليې وزارت د محترم مقام له لارې د افغانستان اسلامي امــارت د مشــرتابه محترم مقام د چارو ادارې ته د وړاندې کولو لپاره چمتو دي.
۳ــ په بودجه کې د شاملېدو لپاره د ۱۴۰۱ کال لپاره د وزارت د پرمختيايي پروژو پلان برابر او اړوندې مرجــع تــه وړاندې شوی دی.
۴ــ د څښاک د اوبو له څاه کېندنې او د مسجد شريف د ودانۍ له کېندنې او اوارولو څخه څارنه شوې ده.

۵ــ د وزارت د نوي کمپلکس د دوو پرمختيايي پروژو د امنيتي تحکيماتو پروژه او په ده سبز ولسوالۍ کې د کابـــل د حقوقو رياست د ودانۍ د نوي کمپلکس د اړينو مواردو د پروژې په اړه چې تېر کال بشپړې شوې دي د رسمي نظـــر څرګندول.

## د اداري او مالي رياست په برخه کې

۱ ــ دعوايدو له پلوه د (۲۵۲۸۱۸۲۶) افغانيو تر لاسه کول او همداراز د وړيا مرستې له پلوه (۵۳۷۲۶۵) افغـــانۍ بانک ته تحويلي شوې دي .

۲ ــ له امکاناتو سره سم د ولايتونو د وسايطو د تيلو د لګښت تخصيصونه اجرا شوي او همداراز د عـــدليې وزارت د ټولو جنسونو، وسايطو او شتمنيو درې ځلې موجودي شوې ده.

۳ ــ د وزارت ټولې تحويلخانې معاينه او اضافي جنسونه تفکيک او ليلام ته چمتو شوي دي.

۴ ــ د آويزونو او په (۱۰۰۰) قطعو کې د بانکي حساب صورت سنجش او توحيد

اجرا شوي دي، په نوي سيستم کې د مراجعينو لپاره د عوايدو د پيسو د تحويلۍ لپاره (۲۵۰) قطعې اجرا شـــوي دي او همدارنګه د عوايدو د راټولولو په سيستم کې

د نغدي او لېږدييزو آويزونو د ثبتولو (۱۰۰) قطعې اجرا شوي دي.

۵- د چين هېواد د تمويل پر بنسټ دوه پروژې (۱) د دوو ژورو څاګانو او يو مسجد چې (۱۰۰۰) تنه لمونځ کوونکي پکې ځايېږي او په (۲) پوړونو کې به جوړېږي اوکار يې پيل شوی دوام لري .

۶- د عدليې وزارت د سمسورتيا پروژه بشپړه او پرانېستل شوې ده .

۷- د مرکز په ګډون په ټول هېواد کې د عدليې رياستونو د جنسونو موجودي اخېستل شوې ده .

۸- په بېلابېلو ولايتونو کې په عدليې وزارت پورې د اړوندو ادارو د اداري اومسلکي کارونو هر اړخيزه ارزونه شوې ده

۹- د ولايتي ادارو او د عدليې رياست ترمنځ د همغږۍ فضاء رامنځته شوې ده .

۱۰- د عدليې رياستونو په ستونزو د پوهېدو او د هغو د حلولو په خاطر لوړ رتبه هيئت استول شوی دی .

## د اداري او مالي رياست د تکنالوژۍ او معلوماتو د خدمتونو د انسجام آمريت:

۱ ــ د دغه آمريت د يو تن مسلکي کارکوونکي له لوري د وزارت کارکوونکو ته د انګليسي ژبې د زده کړې کورسونه جوړشوي دي.

۲ ــ د سرور روم خونې لپاره د اړتيا وړ وسايلو برابرول او نصبول او همدارنګه د وزارت ودانۍ د مخامخې ودانۍ ته د انټرنېټ د نښلولو وسايل برابرشوي دي او (۱۴) ډيټابيسونه فعال شوي دي .

## د حقوقو د لوی رياست په برخه کې

۱ــ له املاکي ، سوداګريزو دويونو او کورنۍ قضاياوو څخه (۴۴۸) عريضې ثبتې او د لازمو اجراآتو لپـــاره د هغـــو اړوندو څانګو ته لارښود ورکړ شوی دی.

۲ــ د ولايتونو د حقوقو په آمريتونو پورې اړوند د (۳۲۵) حقوقي دوسيو له جملې څخه (۱۷۴) د املاکي قضـــاياوو دوسيې، (۵۴) د سوداګريزو ديونو دوسيې او (۹۷) کورنۍ قضاياوو دوسيې د لازم قضايي تصميم نيولو له پاره د سترې محکمې عالي مقام ته راجع او (۱۷۶) دوسيې د ولايتونو د حقوقو آمريتونو ته لېږلې شوې دي.

۳ــ د املاکي قضایاوو د (۸) استهدائیو، د سوداګریزو (۳) استهدائیو په اړه د دې ریاست د مسلکي غړو په واسطه اړوندې مرجع ته لاربښوونه او لازم حقوقي ځواب ورکړ شوی دی.
۴ــ د مسلکي غړو په واسطه د حقوقي شکایتونو ټولې (۲۴) قضیې بررسي او نظر یې څرګند کړی دی او د حق غوښتونکو (۴۲) تنو ته، د شریعت له حکمونو او له مرعي الاجراء پروسیجرونو سره سم حقوقي مشورې ورکړی شوې دي.

## د بشري سرچینو ریاست په برخه کې

۱ــ د ۱۴۰۱ کال د تشکیل برابرول او وروستی کول چې ټول (۲۲۰۸) بستونه رانغاړي چې له دې جملې څخه په مرکزي ریاستونو کې (۸۱۳) بستونه او د ولایتونو په عدلیې ریاستونو کې (۱۳۹۵) بستونه دي.
۲ــ په تشکیل کې چې لوی بدلونونه رامنځته شوي دي: الف ــ هغه اضافي بستونه چې جدي اړتیا ورته نه وه تنقیص شوي دي د هغو په بدل کې د اداري د اړتیا وړ بستونه زیات شوي دي. ب – د وزارت په تشکیل کې د وزارت په مرکز کې دوه ریاستونه د دعوت او ارشاد او د مدافع وکیلانو تر عنوانونو لاندې رامنځته شوي دي.
۳ــ د مرکزي ریاستونو د (٦۷) تنو نویو ټاکل شوو کارکوونکو له پاره د یوې نیمې میاشتې په موده کې د اداري کړنو برنامه، د (۵۹) تنو سابقه کارکوونکو لپاره شرعي دوره، د (۷۰) تنو لپاره انګلیسي ژبه، د (۱۰) تنو مرکزي رئیسانو او آمرینو لپاره، د کمپیوتر زده کړه ییزې برنامې جوړې شوې اودوام لري.
۴ــ لمونځ کوونکو ته په مسجد کې د ماسپښین د لمانځه له اداءکولو څخه وروسته هره ورځ وعظ او نصیحت صورت مومي.
۵ــ د روغتیایي چارو په برخه کې د تېرو شپږو میاشتو په ترڅ کې (۲۸۳۴) ناروغانو مراجعه کړې او ثبت شوي دي او لازمې کړنې ورته ترسره شوې دي .
٦ــ (۱۵) شکایتونه ثبت او بررسي شوي دي، په مرکز او ولایتونو کې (۵۴۸) تنه کارکوونکي استخدام شوي دي، د اداري د لزوم دید له مخې او اړتیا ته په کتو سره له یوه بست څخه بل بست ته مرکزي او ولایتي (۴۵) تنه کارکوونکي تبدیل شوي دي، (۲۴) تنه مرکزي او ولایتي کارکوونکي په خدمتي دوِل توظیف شوي دي، او همدا راز پــه مرکــز او ولایتونوکی (۳۴۹) تنه کارکوونکي د غیرحاضرو پرځای ټاکل شوي دي.

## د مقام د دفتر ریاست په برخه کې

۱ــ (۳) مطبوعاتي کنفرانسونه جوړ شوي دي او همدارنګه له رسنیو سره (۲۵) ځلې مرکې تر سره شوې دي.
۲ــ (۳۳) خبرونه برابر شوي دي او د وزارت په وب سایت او ټولنیزو صفحو کې خپاره شــوي دي، (۲۰) خبرپــاڼې برابرې شوې او رسنیو ته لېږلې شوې دي، (۱۱) مطبوعاتي اعلامیې برابرې شوې دي او همداراز (۹۵)ځلې اطلاعــات غوښتونکو ته وړاندې شوي دي.
۳ــ د افغانستان اسلامي امارت د محترم مقام (٦) فرمانونه، د افغانستان اسلامي امارت د محترم مقام (۳) حکمونــه، د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء (۷۱)حکمونه، د افغانستان اسلامي امارت د کابینې (۲۴) مصوبې، د وزیرانو شورې د اقتصادي کمېټې (۲)مصوبې، د وزارت د مرکزي ریاستونو (۲۱٦۸) وړاندیزونه او اســتهداګانې، د ریاســت الوزراء محترم مقام په نامه (۳۱)وړاندیزونه، او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د عالي مقام (۲) لاربښودونه له پړاوونو څخه تېر او اجرا شوي دي.

۴ــ (۲۱۹) لیکونه او (۱۸۲۵) املاکي، دیونو، کورني او متفرقه حقوقي عریضې اجراء شـــوې دي او همدارنگـــه د آرشیف په برخه کې (٦٦۱۷) لیکونه وارده او صادره، (٦۵۹٦) لیکونه رسیدات، (۱۰) استعلامونه، (۴۷۰) کـــارتن حفظ او ساتنه، د وارده او صادره (۲۰) کتابونو حفظ او ساتنه او (۹) لیکونه د نیمگړتیاوو له امله مسترد شوي دي.

## د حقوقي مرستو د لوی ریاست په برخه کې

۱ــ عقیدتي برخه: ددې اداري ټولو کارکوونکو ته د فقهي عقیدتي درسونو د وړاندې کولو لپاره د لوی رئیس صاحب تر رهبری لاندې ورځنی او دوامداري غونډې په حضوري ډول تدریس شوي دي.

۲ــ اداري برخه: (۲۰۰) لیکونه وارده نیول شوي دي او اړوندو ادارو ته (٦۰) لیکونه صادر شـــوي دي. همـــداراز (۱۲)وړاندیزونه برابر شوي دي او ٦ استعلامونه لیکل شوي دي په همدې ډول د کارکوونکو جنسونه او دفتري لوازم چې د ۱۴۰۰ کال د تشکیل پر بنسټ د ښاري حقوقي مرستو په ریاستونو کې تعین بست شوي وو بیا د وزارت مرکز ته لیږدول شوي دي د ځانگو د هغې برخې کارکوونکو ته برابر او تنظیم شوي دي.

۳ــ مسلکي برخه: دا چې د دې مودې په ترځ کې محکمې او څارنوالۍ غیرې فعالې وې خو له دې سره عدلي او قضایي ارگانونو ته په (۱۸) قضیو کې حقوقي مساعدین ټاکل شوي دي او د ( امیرالمؤمنین د فرمانونو، د اســـلامي امـــارت د رئیس الوزراء د لارښوونو، د مهر د مفهوم، د مهر د مشروعیت د دلیل، د مهر ډولونو، د مسلمان حق پر مسلمان باندې، د اسلامي شریعت په روحیه د ماشومانو د روزنې او...) په اړه (۱۰۸۳) تنو ته حقوقي پوهـــاوی، حقـــوقي مشـــورې، (۱۹۸) تنو غوښتونکو ته د حقوقي مشورې وړاندې کول او په یادو مواردو کې د حقوقي پوهاوي په خاطر په زابـــل ولایت کې دوه راډیویي برنامې تر سره شوې دي چې له هغه څخه (۴۴۵۰) تنو اوسیدونکو گټه پورته کړې ده.

۴ــ د هوکړه لیکونو برخه: د (ان – أر – سی) مؤسسې د رسېدلي هوکړه لیک په اړه نظر څرگند شوی دی.

## د بشر د حقوقو د ملاتړ ریاست په برخه کې

۱ــ د بشر د حقوقو د ملاتړ ریاست د زده کړو د آمریت په برخه کې د غربي بشري حقونو سره د اسلامي بشري حقونو د توپیري او پرتلیزه مطالعه،څېړنه شوې ده.

---

له پورتنی شرحې سره سم دغه راپور برابر او تقدیم دی.

**د راپور برابروونکی:**
مفتي نیاز محمد "شاکر"
د پالیسی او پلان رئیس

**د راپور تصدیقوونکی:**
مولوي عبدالحکیم "شرعی"
دعدلیې وزارت سرپرست